# په خوست ولایت کې یوه مجرم او دوو متهمینو ته تعزیري سزا ورکړل شوه

چهارشنبه ۱۴۰۴/۷/۱۶ - ۱۴:۳۶




د خوست ولایت د باک ولسوالی ابتدائیه محکمې د پرېکړې له مخې دوو کسانو ته د غلا په تور او یوه کس ته د اخلاقي فساد په جرم، نن چهارشنبه (۱۵/ ۴/ ۱۴۴۷هـ ق) نېټه په عام محضر کې تعزیري سزا ورکړل شوه.

ابتدائیه محکمې یاد کسان پر یوه ـ یوه کال تنفیذي بند او له ۲۰ څخه تر ۳۰ دُرو تعزیري سزا محکوم کړي وو؛ چې یاده پرېکړه د سترې محکمې عالي مقام له تائید وروسته پر مجرم او متهمینو تطبیق شوه.